د پوهنمل نوزادی ژباړه

۲۰۰۸/۱۱/۰۷م

# د یوه طالب وژنه د دوو نورو زیږول دی

د nPosteJylands پنامه د ډنمارک یوی مشهوری ورځپاڼې ژورنالست په ۲۰ \ ۱۰ \ ۲۰۰۸ نیټه په افغانستان کی د ډنمارک د سفارت د پرمختیایی چارو سر سلاکارGorm Pedersen سره دخبرو اترو پر بنسټ د ( موږ باید ځان د طالبانو سره عیار کړو ) تر سر لیک لاندی یوه لیکنه د ورځپاڼی په لومړۍ مخ کی خپره کړیده چی پښتو ژباړه یی لوستونکې په لاندی کرښو کی لوستلاۍ شي :

,, دافغانستان جنګ اوس خپل ډیر بدمرغه او ورانونکې پړاو ته ورننوتې چی د بریې پایله یی څرګنده نده او ددی حالت نه دوتلو یوازنۍ لاره داده چی د طالبانو ایدیالوژۍ ته ځای ورکړل شی او هغوی ومنل شی . حکومت (دنمارکی – ژباړ) خو دطالبانو سره د بی شرطه خبرو پلوۍ ندی مګر dersenPe پردی خبره ټینکار کوی او وایی , دا یو حاد ضرورت دی چی هم د طالبانو سره نیغ په نیغه دسولې دخبرو میز ته کښیناستلو ته غاړه کښیښودله شی آو هم ددوی د ایدیالوژیکی مورال بنستونه ومنل شی .

د افغانستان د پرمختیایی کارونو په چارو کی د دنمارک سفارت وتلې څیره او سر سلاکار زیاتوی : داخبره په یوازی سره کافی ده نه چی افغان دولت او لودیز باید د طالبانو سره سوله وکړی بلکه داهم یوه اړینه خبره ده چی باید د بیلګی په توګه پداسی چارو کی لکه مساوات او عدالت , میراث او دنکاح مسلې او نورو ورته موضوعګانوکی ددوی ایدیالوژیکی اساساتو ته هم ځای ورکړل شی . داهغه ټکې دی چی د سولې دټنګښت دپاره لازم او اړین بریښی .

دی ( پیدرسن ) وایی چی د افغانستان ماموریت او په ځانګړی ډول د بیارغونې چاری د خپلې اصلې لاری څخه بیخی خطا شویدی او بیله دی نه چی باید د طلبانو سره د سولې و ارزښتونو ته دمنلو په موخه غیږه پرانیزو, بله هیڅ چاره نده راته پاته .

طالبان اوس پر ښوونځیو , روغتیایی کلینیکونو او نورو دولتی موسسو باندی خپلو حملو ته دوام ورکوی او پدی توګه دافغانانو په مخ کی د خپل قوت څرګندونه کوی . طالبانو دا ګړې د افغانستان په ډیرو پراخو سیموکی داسی نفوذ کړی چی موږ ور باندی د پوهیدلو توان نلرو او هغه داچی د هر یوه طالب په وژلو سره موږ دوه نور طالبان رازیږوو . له همدی کبله ده چی باید د سولې خبرو اتروته ورسره کښینو که څه هم ددی کار بیه ددوی د اخلاقی ارزښتونوپه منلو تمامه شی . طالبانو دافغانانو تر منځ اوږدی ریښې غزولې دی او موږ مجبوریو د طالبانو د جنګی لیکو نه ځانونه لیری وساتو . نومورې سلاکار پدی اند دی چی بیله د طالبانو دمنلو څخه بله داسی لاره نسته چی موږ په افغانستان کی یوی سوله ایزی پایلې ته ور نژدی کړی . دی دا خبره د بیخه ردوی چی د طالبانو سره روغه جوړه دا دهغوی په وړاندی چی د دنمارکی سربازانو وژنکې یی بول, پر زنګنو لویدل دی او زیاتوی چی زما هدف دا ندی دهغو کسانو تابعیت وکړو چی عادی وګړی او خارجیان په بمونو الوزوی , بلکه لدی خبرو نه می موخه داده چی ددغه ورانونکې بدمرغه حالت نه افغانانو ته د وتلو یوه مناسبه اوعملې لاره په ګوته کړو .

زموږ ماموریت په افغانستان کی دیو لړ جدی پرابلمونو سره مخ شوی او دی سوال هم ورسره جدی بڼه اخیستې ده چی ایا کولا شو داجنګ وګټو ؟ نو ایا دسولې داسی لاره به ومونډل شی چی دطالبانو سره دروغی جوړی له مخی دافغاناونو او لودیزوالو تر منځ د ددوستۍ پل وګرځی ؟

دهلمند ولایت په ګرشک اولسوالۍ کی د دنمارک دخارجه وزارت د ټیکاو ( ثبات ) چارو سلاکا جیورج ګیوتنبیرګ George Gutenberg وایی : زه په جرئت سره پر دی خبری ټینګار کوم چی که موږ دټیکاو غوښتونکې او دطالبانو څخه ځان خلاصول غواړو , باید افغانانوته هغه څه ورکړو چی دوی ته په زړه پوری وی او غواړی ئی .

ددنمارک ددفاع وزارت دویم نفر د دفاعی شتاب مشر , جنرال Bjorn Bisserup پدی اند دی چی زموږ اخیرنۍ چانس به دا وی چی دطالبانو سره دسولې خبرو ته غاړه کښیږدو . په دنمارک چی کله دافغانستان د دموکراسی په اړه بحث کیږی , داسی څرګندوی چی افغانستان دلودیز سره ورته والۍ لری او داهغه څه دی چی شونې ندی . که موږ غواړو چی افغانان خپل کړو , داکار باید پخپله افغانان دخپلو کلتوری ځانګړتیاوو په پام کی نیولو سره ومنی . په افغانی ټولنه کی سپین ږیری متنفذ مشران د پریکړو په اړه اغیزمن رول لوبوی . موږ نشو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کولای دیوه منځګړې دلاری دځوخبرو په مرسته ټول جنجال حل کړو . موږ هلته دیوی داسی دموکراسی سره سروکار لرو چی له مخی یی د ټولنی ټول غړی که طالب وی یا کوم بل څوک , د یوی رایی حق لری .
د دفاع په وزارت کی اوس ډیری داخبره منې چی په افغانستان کی یوازی د توپک په زور بری ناشونی دی ځکه چی هلته باید دنژدی ۳۰ میلیون وګړو زړونه ترلاسه شی . د بله لوری د په بیارغونې کی د پیل چاری په افغانستان کی تر عراق او بالکان ډیری خرابی وی ځکه چی هلته اباد انفراسترکچر ( بیخ جوړښتی تاسیسات لکه لاری , پلونه , کارخانی او نور . ژباړ ) موجود وو او دلته جنګ ځپلی افغانستان یوه وران کنډواله وه چی باید هرڅه یی بیا دسره روغ شوی وای .
د طالبانو ریښی په افغانستان کی ژوری دی . که څه هم دطلبانو ډیره برخه پښتانه دی , خو ټول پښتانه بیا طالبان ندی . همداګړی دپښتنو شمیر په افغانستان او پاکستان کی تر ۵۰ میلیونو پوری اټکل شویدی . په همدی خاطر طالبان ځانو ته هم دلته او هم هلته خواخوږی پیداکولای شی . له همدغه کبله دطالبانو سره جوړ جاړی یوه اړینه خبره ده . دانګریزانو دجوړ جاړی په پایله کی دطالبانو یو قوماندان د موسی قلعه اولسوال وټاکل شو چی دی او ملګری یی ددولت سره همږغی لری . ددفاع وزارت یو لوړ پوړی چارواکی Peter Dahl Truelsen دا کار یوه مثبته بیلګه بولی او وایی چی دا ډول جوړ جاړی دسولی په ټیکاو کی مرسته کوی .
جیورج ګیو تینبیرګ څرګندوی چی د طالبانو سره به سوله دعادی افغانانو دپاره ورځنی چاری اسانی کړی ځکه چی امنیت ټینګیږی او دکاراو ژوند دپاره مناسب شرایط منځته راځی . له همدی خاطره دا زموږ دنده ده چی دافغان اولس د اړتیاوو او غوښتنو سره خپلی چاری برابری کړو . ښایی پدی پروسه کی به داسی ضرورت هم رامنځته شی چی موږ به اړشو دښځو دچارو د مرکزونو پرځای به د مسجدونو په جوړولو لاس پوری او یا به قومی سپین ږیرو ته داحق ورکړل شی چی دمحکمو پرځای اړینی پریکړی دوی پخپله وکړی . نوموړی ددی سوال په ځواب کی چی ایا داکار به دطالبانو په وړاندی پر زنګنو لویدل نه وی ؟ وایی نه , داکار به هیڅکله هم به دامانا ونلری , ځکه د امنیت او ټیکاو منځته راوستل یو اړین او ډیر ضروری ریالیزم دی او دی موخی ته رسیدل بیا بیله دسولی نه یوه ناشونی ارزو ده . بل سوال دادی چی هغو دنمارکی سربازانو ته به څه ووایو چی داګړی دطالبانو سره په جګړه کی په خپل ژوند باندی لوبی کوی ؟ ښاغلی ګیوتینبیرګ بیا ددی سوال په ځواب کی څرګندوی چی موږ هغوی ته ویلای شو چی دجنګ څخه دطالبانو دایستلو پخاطر داکار دافغان دولت په مخ کی دیوه شرط په توګه پروت دی او ددی شرط دپوره کولو نه پرته نړیوال قوتونه هم بله چاره او اسانه لاره نه وینی .

پای

****************

دژباړونکي یادوونه :
په یاده شوی ورځپانی کی لوړه لیکنه ډیره اوږده , چی لوموړی , شپږم او اووم دری واړه مخونه یی بشپړ نیولی او دافغانستان داوسنی حالت پر بیلا بیلو اړخونو یی څرګندونی کړی دی . خو ما یی یوازی هغه برخه دلته را ژباړلی ده چی د نن ورځی ډیره توده موضوع او دطالبانو سره دخبرو اتر په اړه یادوونی لری .
زه پخپله دنوموړی لیکنی دلیکوال ددی خبری سره همږغی نه یم چی طالبان پدی خاطر ځانونو ته د پښتنو په منځ کی خواخوږی لټولای شی چی ددوی ډیره برخه پښتانه دی . ښایی داخبره بی بیخی تاثیره نه وی مګر زما په اند دخواخوږی بنسټیز علت یی همدغه ټکی ندی , ځکه چی :
۱ - طالبان یو قومی سیاسی جوړښت نه بلکه مذهبی جوړښت دی او یوازی دتنظیمی جګړو بدمرغیو , چور چپاول او پاټک بازیو دوی په سیاست کی ور شکیل کړل .
۲ - دوی هیڅکله دخپلو مذهبی عقایدو په رڼا کی سمتی , ژبنی ، قومی او نوری اړیکی ندی لیدلی . له همدی کبله ددوی در اخرګندیدو وروسته یی تر ټولو لومړنی او خونړی جنګونه دپښتنی قوماندانانو سره منځته راغلل او تر ټولو نژدی مناسبات او دوستانه اړیکی یی دربانی صاحب دجمعیت اسلامی تنظیم او نظار شورا سره وی چی په کل کی غیر پښتنی ډلی دی .
۳ - د داکتر نجیبالله , قوماندان عبدالحق او نور داسی کسانو وژل دلوړو خبرو دثبوت دپاره ښه بیلګی کېلی کیدلای شی .
زما په اند که دطالبانو سره خواخوږی موجوده هم وی , هغه به لدی کبله وی چی طالبان دخلګو دمال , سر او ناموس په ساتنه کی دجنایتکارانو پرضد پریکنده ګامونه اخلی او دواکمنی په سیمو کی یی بشپړ امنیت دی . پداسی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

حال کی چی د دولتي حاکمیت په دموکراتیکي انارشۍ کی دلیوانو دپاره د باد او باران بازار تود دی , هره ورځ دخلګو پرمال او ناموس باندی تجاوز کیږی . دا هغه څه دی چی افغانانو ته داګړی د ټول انفرا سترکچر تر بیارغوني زیات ارزښت لری .

د بشپړ امنیت او سوکاله ژوند په هیله !


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de